# د کډوالو د روغتیا د پروګرام یو لاربنود

## د واشنګټن فیرس کاونټي ته پخیر راغلئ




Tacoma-Pierce County
Health Department
*Healthy People in Healthy Communities*

**tpchd.org**

## کډوالو لپاره نورې سیمه ییزې سرچینې

**فىرس ټرانزټ**
**piercetransit.org**
د بس سروىس، وخټونو او کراىو په اړه معلومات.

**د ټولنىزو او روغتىايي خدمتونو رىاست**
**dshs.wa.gov**
د خوړو د سټىمپونو، د ماشومانو د پاملرنې، د طبي چارو او نغدو د مرستې لپاره.

**ټاکوما کمیونټي هاوس (TCH)**
**(253) 383-3951 • tacomacommunityhouse.org**
د کډوالو د ټولنو مرستې لپاره، لکه د روزګار، تعلىم مواقع، د ژبې درسونه، او نور.

**د مرضونو د کنټرول او مخنیوي مرکزونه (CDC) د کډوال او مهاجر روغتیا**
**cdc.gov/immigrantrefugeehealth**
په متحده اىالاتو کې د مهاجرو او کډوالو د روغتىا په اړه معلومات او احصائىىې.

**د متحده اىالاتو د تابعىت او مهاجرت خدمتونه (USCIS)**
**uscis.gov**
د اوسېدنې د مستقل کارت د حالت، تابعىت، او اى د روزګار د قوانىنو په اړه معلومات.

Tacoma-Pierce County
Health Department
*Healthy People in Healthy Communities*

Rev. Sept. 9, 2022

## روغتیایي سکرینګ څه شی دی؟

### او په دې څومره لګښت راځي؟

په روغتیایي سکرینګ کې ستاسو د روغتیا د تاریخ په اړه پوښتنې شاملې وي، د هغو واکسینو په اړه پوښتنې چې تاسو کړې وي، او یوه فزیکي معاینه. په روغتیایي سکرینګ کې ښایي د لاندې حالتونو ټستونه شامل وي:

- نری رنځ (ټي بي)
- زیړ زېړی (Hepatitis B)
- تور زېړی (Hepatitis C)
- د جنسي عمل له لارې انتقالېدونکي مرضونه (STDs)
- کولسترول (Cholesterol)
- د وینې کموالی (Anemia) او د سکې زهرجنتیا
- پرازیت (وَینه)
- ایډز (HIV)

روغتیایي سکرینګ باید واشنګټن کې د ابادېدو د 90 ورځو دننه ترسره شي. د دې زیاتره لګښتونه به کډوالو لپاره د واشنګټن د ایپل روغتیا (Washington Apple Health) لخوا ورکړی شي.



## زه د خپل روغتیایي سکرینډنک لپاره چیرته ځم؟

**Eastside Tanbara Medical Center**
**Community Health Care**
1708 East 44th Street
Tacoma, WA 98404
(253) 471-4553 Ext. 3210

**که تاسو غواړئ نو دا کلینک به د یو ترجمان انتظام وکړي چې د معاینې پر مهال به موجود وي.**

## زه د خپل روغتیایي سکرینډنک لپاره څه شی راوړم؟

**مهرباني وکړئ خپل روغتیایي سکرینډنک ته لاندې شیان راوړئ:**

- د کډوالو د نړیوالې ادارې (IOM) لخوا تاسو ته درکړل شوی بیګ د خپلو ټولو طبي ریکارډونو او د سینې د ایکسرې سره.
- ستاسو د واکسینو ریکارډونه
- هر هغه درمل یا حکیمي دوایانې چې تاسو یې بنایي استعمالوئ
- قانوني اسناد (I-94 کارتونه، پاسپورټونه، او داسې نور).



## د معاینې په وخت به څه پېښېږي؟

**ډاکټر به تاسو سره خبرې وکړي او ستاسو صحت به وګوري.**

که ضروري وي نو ډاکټر به تاسو ته د اختصاصي خدمتونو لکه د غاښونو، سترګو، عصبي ناروغیو وغیره لپاره مراجعه درکړي.

**په متحده ایالاتو کې تاسو د دوو مهمو روغتیایي پاملرنو حق لرئ:**

- **د ترجمانۍ خدمت:**
  تاسو کولی شئ چې د یو ترجمان غوښتنه وکړئ تر څو په زیاته اغېزمنه توګه له ډاکټر سره خبرې وکړی شئ.
- **محرمیت:**
  ستاسو ډاکټر یا نرس هیڅ شی ستاسو له اجازې پرته نشي ورکولی.

## زه یو روغتیایي سکرینډنک ته ولې اړتیا لرم؟

**روغتیایي سکرینډنک ستاسې د بیاابادېدنې د پروسې برخه ده.**

د دې لپاره چې تاسو خپل د مستقل اوسېدو قانوني کارت ("ګرین کارډ") ترلاسه کړئ، یا ښوونځي یا پوهنځي کې داخل شئ، نو تاسو باید خپل ټول واکسینونه ترسره کړئ. د دې لپاره چې واکسینونه ترلاسه کړئ، تاسو باید په متحده ایالاتو کې روغتیایي سکرینډنګ ترسره کړی وي.

**همداراز، روغتیایي سکرینډنک به:**

- هر هغه مشکلات معلوم کړي چې تاسو ښایي له کاره منع کوي
- یقیني کړي چې تاسو د هغو مسلو لپاره چې ورسره مخ یاست طبي پاملرنه ترلاسه کړئ
- یو نه بل ته انتقالېدونکو مرضونو نه ستاسو حفاظت وکړي

## زه د خپل روغتیایي سکرینډنک لپاره د ملاقات وخت څنګه اخلم؟

**د ټاکوما-فیرس کاونټي د روغتیا ریاست به ستاسو ډاکټر ته تلیفون وکړي او ورته وبه وایي چې تاسو رارسېدلي یاست.**

د ډاکټر دفتر به تاسو ته تلیفون وکړي چې د ملاقات لپاره درسره وخت جوړ کړي.

**دا تاسو لپاره ډېره مهمه ده چې د ملاقات لپاره په وخت ځان ورسوئ.**